محمداقا کوچی ۲۰۱۷/۱۱/۰۷

ټاکنې، ولسواکي او سیاسي ګوندونه

په اوسني سیاسي نظامي بد حا لات کي چې امنیتي ستونزی تر بل هر وخت زیاتي دي داسی بریښي چې د ټاکنو دملي پروسی له پاره قوي اراده شتون نه لري د ټاکنو کمزوري کمیسون چی چندان خپلواک هم نه دی د مدریت کاری هم نیمګړئ دی .د ولس او سیاسي ګوندونو ناهیلي مخ پر زیاتیدو ده، په یوه هېواد کي چې د ترهګریزو فعالیتونو بهرنیو لاسوهنواو جنګونو د اور سری لمبی په زور او ځواک سره لمبي وهي د عامو ولسونو سري غوښي هری خواته سوځي د هرکور مخته د سرو وینو لښتي روان اود جنازو پر سر د خویندو میندو زړیروي کړیکي، واویلاوی، ناری سوری، ساندی اوریدل کیږي. دسولی ځرک نه لیدل کیږي .خو د ملي یوالي حکومت چلونکي خلکو ته پیغام ورکوي چې په ټاکلي وخت ټاکنې کیږي؟ سیاسي ګوندونه هم د ټاکنو له پاره خپل دریځونه وړاندی کوي.

په افغان هېواد کي اوسني سیاسي ګوندونه دوه ډوله موجودیت لري:

اوله کټګوري سیاسي ګوندونه چې ځانو ته ستر پېاوړي ګوندونه وایي دا دي جمیعت اسلامي ګوند، حزب اسلامي ګوند، اتحاد اسلامي ګوند، د وحدت اسلامي ګوند ، افغان ملت ګوند، عدالت ګوند ، جنبش اسلامي ګوند دا کټګوري ګوندونه ځانته ستر او لوی سیاسي ګوندونه وای.په رښتیا دا ګوندونه د تیرو ۱۷ کلونو را دیخوا په واک کي شریک او زیاته پانګونه یي کړی که دولس پلوي نه لري خو زور ،زر او ټوپک لري مقامونه لري.د همدی له برکته یي زیات ثروتونه لاسته راوړل.

بله ډله سیاسي ګوندونه ملي دموکرات ګوندونه لکه دافغانستان دخلکو دپرمختګ ملي ترقي ګوند،د وطن ګوند چی لا په رسمي توګه نه دی راوتلی خو د موجودیت له پاره کار فعالیت کوي،د ملي یوالي ګوند، دسولي غورځنګ ګوند او یو شمېر نور. اوله کټه ګوري ګوندونه چی وسلوال پریمانه ډلی، پریمانه ډالر، او په اوسني حکومت کي پوره زور او واکمن ګوندونه دي د ګوندونو د قانون له مخي دوی قانوني اجازه نه لري خو د زور او ځواک له مخي ځان ته دا حق ورکوي، د راتلونکو ټاکنو له پاره همدا اوس منډي تړی وهي او پر دی ټینګ باور لري چی میدان زموږ دی هر څه لرو ښه بېلګه یي دا نژدی ورځو کي د مزار د واکمن والي عطامحمد نور سفر د هرات ولایت کي د تورن محمد اسماعیل سره ګډه غونډه او خپل دریځ د حزب اسلامي مشر حکمتیار د ټاکنو کمیسون سره ناسته او اعلان ، داستاد سیاف متیګونه او ویناوی او نور.

ملي دموکرات ګوندون:

دا کټګوري ګوندونه د غوره تګلارو در لودونکي دي خوددوی ستونزی خپل مینځي مخالفتونه اود پخوانیو روابطو او ضوابطو نه وتل ورته ګران کار ښکاري همدا ستر لامل دی چی دوی تراوسه د مخکنیو مشرانو که ژوندي دي او که مړه شوي د هغو د تیرو کار نامو اوتګلارو پلوي کوي، نوځکه ټول د یوی موخي له پاره د ګډ ارمان ته درسیدلو له پاره مبارزه نه کوي، په څو کوچنیو او غټو ډلو ویشل شوي د باور مندی روحیه کمزوری بریښي یو بل ته د شک په سترګو ګوري دا شمېر ګوندونه په حکومت کي څوکي نه لري په مادي لحاظ هم کمزوري دي اوله کټګوري ګوندونه خو دنن ورځی موډل مبارزه د څوکی او پیسو او ټوپک په زور واکمن شوي اود همدغو فاکتورونو په واسطه په ټاکنو او مقامونو کي بر لاسي ته ځانونه رسوي.

بل لامل یي د خلکو د پوهاوي د نه لرلو له امله دویمه کټګوري ګوندونو ته نه ورځي ځکه دا ډول سیاسي ګوندونه د چا لاس نیوی نشي کولای د خلکو د مجبوریت نه زورواک او مالداره خلک سو استفاده کوي په ټاکنو کي رایه د پیسو په مټ تری اخلي که د ولسونو د پوهاوي سطحه لوړه شي خلک د هغه چا په کړنو او زور زیاتی او فاسدو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کارونو خبر شي چی دوی کړي هیڅکله به د فاسدو خلکو د رشوت خوړونکو ډلو ټپلو اوددوی اړونده استازو ته رایه ور نکړي.

د سیاسي متغهدو گوندونو له پاره اړینه ده چی پخواني رابطې هیری کړي د ملت او ولسونو د د سوکالی او ښېرازی له پاره باید سره یو موتی شي اود ټاکنو له لاری خپل وړ استازي ولسي جرگی او ولسوالیو شورا گانو ته کاندید او بریالي کړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ